(١)

## الله جل جلاله ته د ځان د سپارنې لاملونه او اغيزې

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ »** ژباړه: **«همغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کښې پيدا کړل؛ او بيا يې پرعرش باندې استوا وکړه. الله پر هر هغه څه باندې پوهيږي چې په ځمکه کښې ننوځي او څه چې له هغې څخه راوځي او څه چې له اسمانه راکوزيږي او څه چې په هغه کښې خيژي. تاسې چې هر چيرې ياست، هغه ستاسې سره دی. تاسې چې هر کار کوئ الله يې ويني.** » او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دې وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندې چې د قيامت تر ورځې پورې په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

ډيرو درنو مسلمانانو ورونو الله جل جلاله ته د ځان د سپارنې ډولونه دوه دي يو دا چې الله جل جلاله د انسان څارنه کوي او بل دا چې د انسان تايئد کوي لومړني مقصد دا دي چې الله جل جلاله د ټولو مخلوقاتو سره دي لکه چې الله جل جلاله پدې هکله فرمايلي دي:« **وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ**»ژباړه:« له هماغه سره د غيبو کليګاني دي چې د هغه پرته بل څوك پرې نه پوهيږي.

په وچه او اوبو (سمندرونو) کښي چي هر څه دي، له ټولو څخه هغه خبر دی. له وني څخه کومه رالوېدونکې پاڼه داسي نشته چي هغه پرې عالم نه وي. د ځمکي په تررږمی پردو کښي کومه دانه داسي نشته چي هغه ورڅخه باخبر نه وي. وچ او لامده ټول په يو روښانه کتاب کښي ليکل شويدي»او بيا فرمايي:« أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَى ثَلَاثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَا أَدْنَى مِن ذَلِكَ وَلَا أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ»ژباړه:« ايا ته نه يې خبر چي الله د اسمانونو او ځمکي پرهر شي باندي عالم دی؟ - هيڅکله داسي نه کيږي چي د درېو تنو کوم پټ مجلس وي او د هغو په منځ کښي څلورم الله نه وي، يا د پنځو تنو پټ مجلس وي او په هغو کښي شپږم الله نه وي. د پټو خبرو کوونکي که له دې څخه کم وي يا زيات، هغوی چي هر چيري وي، الله ورسره دی. بيا به د قيامت په ورځ هغو ته دا وښيي چي څه يې کړيدي. الله په هر شي باندي عالم دی»او بيا فرمايي:« أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ»ژباړه:« ايا هغه دي (د زړونو په حال) ونه پوهيږي چي هغه پيداکړي دي؟ - پداسي حال کښي چي هغه باريك ليدونکی (په پټو رازونو پوه) او باخبره دی».

اودوهم ډول يی دادی چې هغه د تايئد والي د برلاسی د ساتني مرستي او د پاملرني دي چې پدي باندي يواځي الله جل جلاله خپل رسولان انبياء اولياء او نيکان د خپلو بندګانو څخه ځانګړي کړي دي قرانکريم په بيلابيلو ځايونو کې دغی لويی فضيلت ته اشاره کړي ده چې دا يواځي د الله جل جلاله پخپلو مخلوقاتو کې د خپلو اولياء او نيکانو سره وي پدي کې الله جل جلاله خپلو دوو عزتمندو پيغمبرانو ته چې موسی عليه السلام او هارون عليه السلام راځي پدي هکله فرمايي:« **اذْهَبْ أَنْتَ وَأَخُوكَ بِآيَاتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكْرِي * اذْهَبَا إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى * فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَى * قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَنْ يَفْرُطَ عَلَيْنَا أَوْ أَنْ يَطْغَى * قَالَ لَا**

**تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَى**» ژباړه:« ته او ستا ورور زما له نښانو سره ولاړ شئ! او زما په ياد کښې لنډون (سُستي) مه کوئ* تاسي دواړه فرعون ته ورشئ چي هغه سرکښه شويدی* له هغه سره په نرمۍ خبري وکړئ، ښايي چي هغه نصحيت ومني يا ووېرېږي* دواړو عرض وکړ: "پروردگاره! موږ وېرېږو چي هغه به پر موږ زياتی وکړي يا به لا زياته سرکښي وکړي* ويې فرمايل: "مه وېرېږئ، زه ستاسي سره يم، هر څه اورم او وينم.» دا هغه ملتيا ته چې موسی عليه السلام پدي هکله خبره وکړو کله چي هغه گومان وکړ چې د هغه قوم او فرعون او د فرعون د پوځ له لوري ونيول شول او په هيڅ ډول دوي ته د ژغورني لار نشته ځکه چې په مخکي کې درياب دی او فرعون او د هغه پوځ د هغه ترشا روان دي نو چغه يی کړی له په قرآن کې چې راځي:« **إِنَّا لَمُدْرَكُونَ**»«چي موږ خو ونيول شو» موسی عليه السلام خپل قوم ته وفرمايل او په ډير يقيني ډول يی وويل چې الله جل جلاله له مونږ سره دی او هغه زمونږ مرسته او تاييد کوي لکه چې وی فرمايل:« قَالَ كَلَّا إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ»ژباړه:« موسی (ع) وويل: "هيڅکله نه، زما سره زما رب دی. هغه به هرومرو ما ته لارښوونه وکړي».

همدغه ملتيا د الله جل جلاله له ولري خپل نبي پيغمبر صی الله عليه وسلم او د هغه نور ملگري او ابوبکر صديق سره هم وه کله چې دوي دواړه د هجرت باندي ووتل لکه چې ابوبکر صديق رضي الله عنه وايي چې زه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره په غار کې ومه نو ما وليدل چې د مشرکانو قدمونه هلته وهل کيدل نو ما ورته وويل چې اي د الله رسوله که پدوي کې کوم يو خپلو قدمونو ته وگوري نو مونږ به هغوي په ډيري آساني سره پيدا کړي پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې اي ابوبکره مونږ دوه يو اوزمونږ دريم الله جل جلاله دي چې هغه ټول وخت زمونږ سره دی او پدي هکله الله جل جلاله فرمايلي دي:« إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا

تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ»ژباړه:« که تاسي د پېغمبر (ص) مرسته ونکړه، نو هيڅ پروا نشته. الله د هغه مرسته په هغه وخت کښي کړېده چي کله کافرانو هغه ايستلی ؤ، چي کله هغه يوازي د دوو نفرو دوهم ؤ، کله چي هغوی دواړه په سمڅه کښي ول. کله چي هغه خپل ملګري ته وويل: "مه خفه کېږه، الله زموږ سره دی." - په هغه وخت کښي الله له خپل لوري څخه پر هغه باندي د زړه ډاډېنه نازله کړه او په داسي لښکرو سره يې د هغه ملاتړ وکړ چي تاسي نه ليدل او د کافرانو وينا يې ټيټه کړه؛ او هماغه د الله وينا خو لوړه ده. الله زورور او پوه د حکمت څښتن دی».

نو دا ډير لوي عظيم نعمت دی چې بنده خپل ځان الله ته وسپاري او څوک چې خپل ځان الله ته وسپاري نو هيڅ پروا د د نيا د نکوي ترديي پوري چې بنده وکولي شي خپل ځان الله ته وسپاري او الله د هغه سره مل وي نو لازمه ده چې هغه دروازو ته دي داخل شي چې هغه دروازي هغه ځاي ته رسيږي او لازمه ده هغه لاملونه بايد پيدا او ثابت کړي چې ددي وړګرځي د مهمو دروازو څخه په لاندي ډول دي:

په بشپړ ډول سره بايد په الله باندي ايمان ولری لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ» د ايمان او د باور تقاضا داده لکه چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:چې ته په الله جل جلاله د هغه په ملايکو کتابونو رسولانو د قيامت پر ورځ په اندازه د خير او شر باندي ايمان ولري اود ايمان حقيقت او واقعيت دادي چې اغيزي يی د انسان په سلوک او د خلکو سره په چال چلند کې څرګنده شي لکه چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: کامل مسلمان هغه څوک دی چې نور خلک د هغه د لاس او او ژبي څخه په امان کې وي او بشپړ مومن هغه څوک دی چې خلک د هغه څخه به امان کې وي او د هغوي ويني او مالونه به امن او امان کې وي.

همدارنګه ددغه دروازو د جملي څخه بل هم دادی چې انسان باید پرهیزګاري او نیکي ثابته کړي لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دی:« إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ»ژباړه:« الله د هغو کسانو ملګری دی چي پرهېزګاري غوره کوي او غوره چاري سرته رسوي»او بیا فرمايي:« وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ»ژباړه:« و وپوهېږئ چې الله د پرهېزګارانو ملګری دی»او بیا فرمايي:« وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ»ژباړه:«او په باوري ډول الله د نېکوکارانو ملګری دی» اوپرهيزګاري هر هغه کار ته ويل کيږي چې الله جل جلاله په هغه باندي راضي کيږي او د هر هغه څه څخه ځان لري کول چې الله جل جلاله پري خفه کيږي او دا د ټولو نيکو په سر کې راځي قرانکريم د تقوا او پرهيزګاری معنی په ډيرو ځايونو کې ذکر کړی ده لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« لَيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَالْمَلاَئِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلاَةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ»ژباړه:« نېکي يوازي دا نه ده چي تاسي (د لمانځه په وخت کي) خپل مخونه ختيځ لوري ته واړوئ، يا لوېديځ لوري ته؛ بلکي نېکي دا ده چي انسان پر الله، د قيامت پر ورځ، پر پرښتو، د الله پر نازل کړای شوي کتابونو او د هغه پر پېغمبرانو د زړه له کومي ايمان راوړي. او د الله په مينه کښي خپل ګران مالونه په خپلو خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، مسافرو، دروېزګرو او د مريانو په ازادۍ مصرف کړي، لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي. او نېکان هغه کسان دي چي کله وعده وکړي تر سره يې کړي او د تنګسې او غمونو په وخت کښي او د حق او د باطل په جګړه کښي صبر وکړي، همدا رښتيني او همدا پرهېزګار خلك دي».

همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي تاسو حسد مکوي.

او د نیکي معنی پیغمبر صلی الله علیه وسلم په بیلابیلو احادیثو کې بیانه کړې ده او د هغه حقیقت یې مونږ او تاسو ته په بیلابیلو معنی ګانو رابرڅیره کړی ده لکه چې فرمایي: د الله جل جلاله پداسې ډول سره عبادت وکړه چې ګویا ته هغه ګوري او که چیرته ته هغه نه ګوري نو هغه تا ګوري او څاري دی او او همدلته بنده کولی شي چې د الله جل جلاله د څارني بشپړه معني په ځان کې راولي او په بشپړه تګه ځان یقیني کړي چې الله جل جلاله په هېڅ ډول د هغه څخه نه غافله کیږي هغه که په ښکاره ډول سره وي او د په پټه ډول سره وي انسان باید پخپلو ټولو خوځښتونو او همدارنګه په هر برخه کې د الله جل جلاله د څارني فرک وکړي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَى»ژباړه:« ایا هغه (منکر) نه پوهیږي چې ښېله شکه الله یې ویني؟».
همدارنګه الله جل جلاله ته د ځان سپارني اود هغه د څارني ته د داخلیدو د لاملونو څخه بل هم صبر دی لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ»ژباړه:« له زغم څخه کار واخلئ، په یقیني توګه الله د صابرانو ملګری دی.»او بل ځای کې فرمایي:« وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ * الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ * أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ»ژباړه:« صبر کوونکو ته زیری ورکړه؛* هغه کسان چې کله ورته کوم مصیبت ورسیږي، نو وایي: "مونږ د الله یوو او د هغه (الله) لوري ته ور ګرځېدونکي یوو* دا هم هغه کسان دي چې د دوی د رب له خوا پرې بخښنه او رحمت دی او همدا کسان د سمې لارې موندونکي دي»او بیا فرمایي:« وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ»ژباړه:« [اې پېغمبره (ص)!] د خپل رب د فېصلې تر راتګه صبر وکړه، ته زموږ تر نظر لاندې یې. ته چې کله پاڅیږې، نو د خپل رب د ثنا او ستاینې سره د هغه پاکی بیانوه؛»او صبر د لفظ ساتنه د هغو کارونو څخه چې هغه انسان پرې خفه کوي او همدارنګهد ژبې له لارې شکایت نکول او همدارنګه د بدن د

اعضاؤ ساتنه د ګډوډيو څخه او دا په هغه وخت کې ثابتيږي چې انسان د خپل نفس ساتنه وکړي او دا ډيرغوره نيکي او ورکړهده چې انسان يو چا سره کوي لکه چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:څوک چې د بل چا سره صبر وکړي نو الله جل جلاله به پده باندي صبر وکړي او يو چاته که چيرته ورکړي شي نو داد په نيکو کې ترټولو ښه ورکړه ده چې انسان ته ورکوي.
همدارنګه الله جل جلاله ته د ځان د سپارني د لاملونو څخه بل هم د ضمير ويښ والی دی د ويښ ضمير خاوند تل دا درکوي چې الله جل جلاله د هغه سره دی هغه که په سفر کې وي که په کور کې وي که په خلوت کې وي که په هرځاي کې وي او پدي باندي ځان پوهوي چې د الله جل جلاله څخه هغه هيڅ څه نشي پټوی او همدارنګه نه به ښکاره او نه په پټه د هغه څخه څه پټولي شي او همدا وو چې د الله جل جلاله نبي يوسف عليه السلام باندي چې کله دروازی بندی کړی شوی او د ګناه ټول لاملونه ورته برابر شو نو هغه خپل رب ته پنا يوړ او دا يی درک کړه چې هغه يی څاري او په هر لحظه څارونکې الله جل جلاله دی نو بيا يی پخپله ژبه باندي د الله جل جلاله دغه وينا وويله چې فرمايي:« إِنَّهُ رَبِّي أَحْسَنَ مَثْوَايَ إِنَّهُ لاَ يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ»ژباړه:« زما رب خو ما ته ښه منزلت راکړی (او زه دا کار وکړم!)." - داسی ظالمان هيڅکله بری نشي موندلی» اوهمدغه خبره د عزيز مصر ښځې هم وکړه لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَلَقَدْ رَاوَدْتُهُ عَنْ نَفْسِهِ فَاسْتَعْصَمْ»ژباړه:« . بېشکه چې ما دده د جلبولو هڅه کړې وه خو دی وژغورل شو» نو د الله جل جلاله د څارني دغه فضيلت په هغه وخت کې درکولی شي چې بنده د الله جل جلاله څخه ويريږي نو کله چې انسنا پخپل ځان کې د الله جل جلاله څخه ويره پيدا کړي نو هغه بيا په قيامت کې د الله د عذاب څخه په امن کې پاتي کيږي په حديث قدسي کې راغلي دي الله جل جلاله فرمايي:«زما د پخپل ذات باندي قسم وي چې زه پخپل بنده باندي دوه ويری نه راولم که

چيرته هغه ځان ماته په دنيا کې وسپاری نو په هغه باندي په قيامت ورځ زه اسانتيا راولم او چيرته هغه په دنيا کې له ما څخه ويريږي نو هغه به د قيامت په ورځ وساتمه».

همدارنګه الله جل جلاله ته د ځان د سپارني د لاملونو څخه بل هم دادی چې د الله جل جلاله ذکر بايد هميشه وکړي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:**« فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي وَلَا تَكْفُرُونِ»ژباړه:« له دې امله تاسي ما په ياد ولرئ، زه به تاسي ياد کړم، او زما شکر اداء کړئ د نعمت ناشکري مه کوئ.»**همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې الله جل جلاله فرمايي:زه د خپل بنده هرڅنګه چې هغه ګومان کوي د هغه سره يمه کله چې هغه ذکر کوي زه د هغه ترڅګ يمه کله چې هغه خپل نفس کې زما يادونه کوي نو زه خپل ځان کې د هغه يادونه کوم او کله چې هغه په هره برخه کې زما ذکر کوي نو زه د هغه لپاره د ښيګڼي غوښتونکي يم.

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډيرو درنو مسلمانانو ورونو:**

الله جل جلاله ته د ځان سپارني بيلابيل لويی اغيزي شتون لري چې بنده د هغه نه ګټه بورته کوي او دا په دنيا او آخرت دواړو کې هغه ته ګټه رسوي لومړي دادي څوک چې الله جل جلاله ته ځان وسپاري نو الله به

یی د هر شر څخه ساتنه وکړي او ټول ضررونه به ترې لرې کړي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:«الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ »ژباړه:« هغه کسان چې خلکو (منافقانو) ورته وويل: "ستاسي پر خلاف لويي لښکري راغونډي شويدي، له هغو څخه ووېرېږئ ."- نو ددې په اورېدو يې نور هم ايمان پياوړی شو او هغو (مؤمنانو) ځواب ورکړ چي زموږ لپاره خدای کافي دی او هماغه ډېر ښه کار جوړوونکی دی.»او بيا فرمايي:« وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا»ژباړه:« څوك چي پر الله توکُل وكړي، د هغه لپاره الله کافي دی. الله د خپل کار پوره کوونکی دی. په يقيني توګه، الله د هر شي لپاره يوه اندازه ټاکلې ده. »او بيا فرمايی:« أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ»ژباړه:« اې پېغمبره (ص)!] ايا الله د خپل بنده لپاره کافي نه دی؟» او څوک چې په الله باندي باور وکړي نو همدا ورته بسنه کوي نو هيڅ دښمن نشي کولي چې هغه ته زيان ورسوي او په هيڅ ډول ديته څوک زيان نشي رسولی او کله چې د الله جل جلاله دغه وينا اورو چې د موسی عليه السلام په هکله يی ويلي ده لکه چې فرمايي:« وَلِتُصْنَعَ عَلَى عَيْنِي»ژباړه:« او داسي انتظام مي وکړ، چي ته زما په څارنه کښي وپالل شې»او بيا فرمايي:« وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِي»ژباړه:« ما ته د خپل کار لپاره برابر کړی يې»او بيا او الله تعالی دغه وينا چې نبي كريم صلی الله عليه وسلم ته فرمايي:« وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا»ژباړه:« [اې پېغمبره (ص)!] د خپل رب د فېصلې تر راتګه صبر وکړه، ته زموږ تر نظر لاندي يې»اوبيا فرمايي:« وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا أَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ عِنْدَ رَبِّهِمْ»ژباړه:« څوك چي يې ومني، زيری ورکړه چي د هغو لپاره د هغو له رب سره رښتونی عزت او سر لوړي ده؟» نو مونږ دا درک کوو چې الله جل جلاله ته د ځان سپارني څومره لوي عظيم او همدارنګه فضيلت دي او د هغه اغيزی څومره دی.

بی له شک څوک که الله جل جلاله ته ځان وسپاري او د هغه تر څارني لاندي راشي نو د هغه د اطمیئنان او د برقراري او د نفسي زغم مهمي دروازي ځانته پرانستلي دي او د هر ډول ګډوډیو څخه یی ځان لری کړی دی ځکه هغه څوک چې ځان الله ته وسپاري او هغه لاملونه چې هغه ته د سپارلو لامل کیږي هغه په ځان کې راولي نو هغه درک کوي چې هر څه د الله په لاس کې دي او هغه ته هیڅ ډول زیان نشي رسیدلی له چې الله جل جلاله فرمایي:« قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»ژباړه:« اې پیغمبره (ص)!] ووایه: "خدایه! د ملك مالكه! ستا چي چا ته خوښه شي حکومت ورکوې او له چا څخه چي وغواړې اخلې يې. چا ته چي دي خوښه شي عزت ورکوې او څوك چي وغواړې ذليله كوې يې. ښېګڼه ستا په واك كښي ده، بېشكه ته په هر څه قادر يې.» او بیا فرمایي:« ما يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا  وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِن بَعْدِهِ  وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ»ژباړه:« الله چي د هر رحمت دروازه د خلكو لپاره پرانيزي، څوك د هغې بندوونكی نشته؛ او كومه چي هغه وتړي، د الله څخه وروسته بيا كوم بل څوك د هغې پرانستونكی نشته. هغه ځواكمن او د حكمت خاوند دی».

بندګان که چیرته ددی احسان وکړی چې الله جل جلاله ددوي څارونکز دی او همدارنګه په هر وخت کې ددوي سره دی او د هغه څخه ویره وکړي نو هغوي لپآره او د همدارنګه د ټولني لپآره د نفسي سلامتیا لوړی درجی رامنځته شي او د ګډ سولییز ژوند او امنیت رامنځته کیدو کې ډیره لویه اغیزه لري ځکه بندګان چې کله پدی باندي په یقیني توګه سره پوه شي چې د الله جل جلاله د نظر څخه هیڅ هم نشي پټدلي نو د هغوي سلوک سمیږي د هغوي اخلاق ښه کیږي او د الله ج جلاله د اوامرو ساتنه کوي او د هر هغه څه څخه ځان منع کوي چې الله جل جلاله د هغه څخه منع کړی وي او د خپل حد په اندازه پرمخ زي او د ټولو هغو اسبابو نیونه

کوي چې د دوي په دنيا او په آخرت کې پکار راځي نو يو وګړي پخپل ځان کې او بيا د خپلي کورني او د خپلو ګاونډيانو د ملګرو د ټولني او د ټولو خلکو سره په سوله کې ژوند کوي او همدا د سولي او د سلامتيا پيغام هم د اسلام د مبارک دين رسالت دی چې د ټولي نړۍ لپآره يو رحمت راليږل شوی دی.
الله دی مونږ ته توفيق راکړی چې هغه ته ځان وسپارو او هغه له مونږ سره مرسته وکړي او همدارنګه مونږ تته توفيق راکړي چې د هغه فضيلت او همدارنګه نعمتونه ترلاسه کړو او په ټولو چارو کې اخلاص وکړو زمونږ ګران هيواد مصر او د نړۍ ټول هيوادونه د الله جل جلاله په امن او امان کې ولري.